# بُست پوهنتون
# علمي معاونیت
# د استادانو چارو امریت
# د استادانو، اداري او محصلینو د خوندیتوب (مصوئنیت) پالیسي

## سریزه

دانسان د فردي او شخصي حقوقو له جملي څخه یو هم دپناه اخستلو حق دي ،کله هم چې د انسان ژوند د تهدید سره مخ سي ،او په ټولنه کی آرام او هوسا ژوند نسي تیرولی ،نو کولای سي ،چی د ژوند تیرولولپاره یو مصئون ځاي پیدا کړي او په نوموړي مصون ځاي کې میشته سي.

د اسلام مقدس دین نوموړی حق هر بیچاره او مظلوم ته مسلمان وي او که کافر،تور وي اوکه سپین شرقي وي او که غربي ثابت کړی چې فرمايي:

(وان احد من المشرکېن استجارک فاجره حتی یسمع کلام الله ثم ابلغه مامنه).(۱) ، براة ایت ۶

ژباړه :که چېري د مشرکېنو څخه یو تن له تا څخه دامان غوښتنه وکړي ،نو امان ورته ورکړه ،تر څود خداي ج کلام واوري ،او بیایي د امن ځاي ته ورسوه.

نو د مظلوم داثابت حق دي چې د ځان لپاره د ژوند تیرولو په غرض یو مناسب ځاي اختیار کړي

په اسلامي شریعت کې ټولني او هر فرد ته داحق هم ورکړ شویدي چه دولت درئس او دهغه دنورو مأمورینو طرزالعمل ،پوره مراقبت او کنترول وکړي .افرادو ته دا حق له هغه ځایه ورکړ سوي چه ددولت رئیس د ټولني دافرادو د وکېل په حیث کارکوي.او هر موکل داحق لري چه دخپل وکېل له اعمالو او حرکاتو څخه پوره مراقبت او کنټرول وګړي ترڅو

ټو لنه دخپل وکېل له اعمالو څخه ډاډه سي.

نو بنأً په همدې منظور د بُست پوهنتون د استادانو چارو امریت په خپل تشکیل کې (۱۲۵) تنو په تعداد ذکور او اناث دایمي او قراردادي استادان او د ( ۳۰) تنو په تعداد اداري او خدمتي کارکونکو ترڅنګ، د ټولو برحاله (حقوقو اوسیاسي علوم ،معالجوي طب ، اقتصاد ، کمپیوټر ساینس ، انجنیري او ښووني او روزني ) پوهنځیو څخه ټولټال (۱۶۰۰) تنه محصلین لري چې هر څوک د خپل لایحه وظایفو مطابق ورځني چاري د تدریس، زده کړی،څیړني او ارزوني په برخه کې مخته بیا یي په همدې اساس د بُست پوهنتون رهبري مسؤلیت لري چې د خپلو محصلینو، بلخوصوص استادانو، اداري او خدمتي کارکونکو د فعالیت لپاره د خوندیتوب او مصوئنیت چاپیریال برابر کړي تر څو وکولاي سې خپل علمي او اکادمیک فعالیتونه په ډاډمنه فضا کې تر سره کړي.

## لومړی فصل

**د بُست پوهنتون د استادانو د خوندیتوب او مصؤنیت پالیسي پر امنیت او صحت باندي جوړه سوې ده چې په لاندي ډول يې تر بحث لاندی نیسو:**

**<u>لومړی ماده : د استادانو،اداري ،خدمتي کارکونکو او محصلینو خوندیتوب د امنیت له پلوه:</u>**

بُست پوهنتون د هلمند لښکرګاه په ډیرو سختو او پیچلو امنیتي شرایطو کې د خپلی اساسامې پربنسټ کومه چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اساسی قانون د (۴۶) مادې او د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د مقررې مطابق تنظیم او تدوین سوې ده فعالیت کوي، بُست پوهنتون د خپلو علمي او اکاډمیکو فعالیتونو تر څنګ هڅه کوی او تل په پام کې لري چې د خپلو ټولو علمي، اداري او خدمتي کارکوونکو د خوندیتوب په برخه کې د ټولو تهدیدونو او ننګونو د له منځه وړولو لپاره امنیتي پرسونل په خپل تشکیل کې لري، بُست پوهنتون په یو لوی او پراخ شیږمنزله تعمیرکي چې (۶۴۰۰) مترمربع مساحت لري او د لښکرګاه ښار په زړه کې واقع دی، په نوموړي تعمیر کې د محصلینو او استادانو د تدریس ، زده کړې او فعالیت نږدې ټولي اسناتیاوي برابري سوي دي نوموړي پوهنتون (۳۰) فعاله او یو زیات تعداد ریزرف معیاري ټولګۍ لري نوموړي تعمیر یو پراخ پارکینګ لري ، درې دروازې لري چې یوه دروازه يې د جنوب په طرف او دوې دروازې يې د لویدیځ په طرف خلاصیږي جنوبي دروازه عمومي سړک ته مخامخ خلاصیږي او دوې نوري دروازې د لویدیځ عمومي سړک ته خلاصیږی، بُست پوهنتون د یوتعداد هغو استادانو لپاره چې د نورو ولایتونو اصلي اوسېدونکي دی ، لیله هم لري او د محصلینو او استادانو د اولیه کومکونو تر څنګ طبي مجهز روغتون لري ناروغان د روغتون له لویدځي دروازې څخه استفاده کوي محصلین او استادانو د جنوبي دروازې څخه،د ټولو دروازو لپاره یو یو امنیتي مسؤل سته چې محصل او استاد تر ځار لاندي نیسي ښه خبره لا دا ده چې بُست پوهنتون د خپلو ټولو محصلینو، استادانو، علمي اداري او خدمتي کارمندانو لپاره د دخولي کارت لري چې دا زموږ سره د تشخیص په برخه کې ډیره مرسته کوي سره له دې د پوهنتون د امنیت په برخه کې اداره خپل ترتیبات لري ،چې ټول ساحه په امنیتي کامرو پوښلې د کنترول فعاله ویډیویي مرکز سته چې په هره لحظه کې د ټیکنالوژي او معلوماتي څانګې د مدیریت لخوا ځارل کیږي. هغه امنیتي پرسونل چې د دروازې د پهره دار په نوم دنده تر سره کوي په ټول باور او اطمینان سره د نظم او دسپلین د کمیټي پربنیاد ګمارل کیږي او هر نوع حالاتو ته په کتلو سره د پوهنتون ټول اړخونه اونزاکتونه په نظر کې نیسي د محصلینو ،استادانو او اداري کارمندانو لپاره ترانسپورتیشن په پام کې لري، د پیښې یا د ګڼي ګوڼي په حلاتو کې له درې واړه دروازو څخه استفاده کیږي بُست پوهنتون څه دپاسه (۲۵۰) انجوني محصليني لري چې د هغوي لپاره د بیل بلاک ترڅنګ بیله دروازه سته چې له هغه څخه استفاده کوي.

**دوهمه ماده: د استادانو،اداري ،خدمتي کارکونکو او محصلینو خوندیتوب د اورلګیدنې له پلوه :**

دبُست پوهنتون په ښېر منزله تعمیر کې د محصلینو لپاره دوه پراخ کمپیوټرلیب او نیټ کېفي سته د درسي ټولګیو سربیره د انجنیري او طب پوهنځیو لپاره په ټولو سامانونو مجهز (۷) لابراتوارونه جوړ او د علمي زده کړې لپاره اماده دي او همدا ډول د طب پوهنځیو لپاره په ټولو وسایلو او امکاناتو مجهز تدریسي روغتون وجود لري همدارنګه بُست پوهنتون د خپل تعمیر لپاره د برېښنا انرژي د دولتي برېښنا،جنراټورونو او لمریزي برېښنا د تولید د ستګاوي او سیتم لري چې د دې ټولو سته امکاناتو څخه د استفادې په وخت کې که چیري کومه پیښه رامنځته سي د بُست پوهنتون د برق د شارټي او یا هم د اورلګیدنې د مخنیوي لپاره په هر بلاک کې پنځه د اور لګیدنې ضد بالونونه نصب کړي د بالونونو د ښې استفادې په موخه د پوهنتون د مالي او اداري معاونیت لخو د لارښود پوسټرونه، بیل بورډونه د هربالون ترڅنګ نصب کړي تر څو د پیښې د رامنځته کیدو پرمهال هر شخص د هغوی څخه استفاده وکولای سي او همدارنګه د بُست پوهنتون د اور وژنې د مخنیوي لپاره د ترانسپورټ د امریت په برخه کې یوه عراده اطفایه هم لري چې همیشه د چمتووالي په حالت کې وي.

**دریمه ماده: د استادانو او محصلینو خوندیتوب د کیمیاوي او بیوشمي لابراتوارونو د تجریبو له پلوه:**

د بُست پوهنتون د طب پوهنځي د محصلینو تدریسي اوعملي چاري د متخصصینو ماسټرانو او لیسانس استادانو لخوا مخته وړل کیږي د محصلینو د علمي کار لپاره د فزیالوژي،فزیک ،کیمیا،بیوشمي او هستوپتالوژۍ لابراتوارونه د تجریبو دتر سره کولو پر مهال د استاد او محصل لخوا مخصوص لباسونه لکه چپنی. ماسک، دستکشي او عینکي د استاد او محصل لخوا مراعتیږي ترڅو د کیمیاوي تجریبو،عملیاتو او تعاملاتو پرمهال محصل او استاد خوندي پاتې سی او د مسموم کیدولو مخه ونیول سي.

**څلومه ماده : د استادانو،اداري ،خدمتي کارکونکو او محصلینو خوندیتوب د روغتیا او صحت له پلوه:**

د بُست پوهنتون په چوکاټ کې مجهز کادرې روغتون موجود دی او په روغتون کې د ناروغانو د ښه تشخیص او درملنی په هدف مجهز طبي لابراتوار،د وینې بانک،سونوګرافي،راډیوګرافي،مجهزعملیات خونه او فیزیوتراپي موجود دي او په یادو څانګو کې (۱۵) تنه متخصیصین او ماهر ډاکتران د ناروغانو د معالجې په برخه کې او (۱۲) تنه د نرسینګ او لابراتوار په برخه کې دنده تر سره کوی چې د خپلو محصلینو،استادانو او اداري او خدمتي کارمندانو د صحي خدماتو سره سره ټولو هیوادوالو ته د عملیاتو او بستر په شمول ټول خدمات وړیا وړاندی کوي بُست روغتون دعاجلو مریضانو د لیږد او رالیږد لپاره دوه عرادې امبولانسونه لري چې د اړتیا په وخت کې د ټول ناروغانو په خدمت کې دي.

**پنځمه ماده: د استادانو،اداري ،خدمتي کارکونکو او محصلینو خوندیتوب د طبعي پیښو له پلوه:**

د بُست پوهنتون شپږ منزله تعمیر چې په (۶۴۰۰) متره مربع مساحت کې جوړدی دا ودانی شاوخوا د شپږ ملیونه امریکایي ډالرو په لګښت د نړیوالو انجنیرانو په موټ په معیاري او کیفي شکل جوړه سوې ده یاده ودانې د هر ډول اقلیمي مسمونو په وړاندي مقاومت کولاي سي، بُست پوهنتون د خپلو محصلینو،استادانو او خدمتي کارمندانو د ښه خوندیتوب او مصؤنیت په موخه لاري ،جادې، دروازې، د برق او اوبو سیستمونه په ډیر هنر او مسلکي توکه ډیزاین کړي تر څو د هر ډول شرایطو د رامنتځه کیدو په وخت کې محصل یا استاد له کوم مشکیل او مزاحمت سره مخامخ نه سي، د طبعي پیښو د مخنیوي لپاره بُست پوهنتون د روغتون او امنیتي دستګاه په برخه کې د اولیه خدمات چمتووالی لری.

**دوهم فصل**

<u>**شپږمه ماده: مامور او قراردادی کار کوونکي د دندی د اجراء په وخت کې لاندی مصؤنیتونه لري:**</u>

١ – له قانوني مجوز پرته ، د کار له حقوقو څخه نه بې برخې کیدل.

٢ – د انساني کرامت ساتل، له جمسي ، اخلاقي او رواني زوروني څخه د خوندیتوب تامینېدل.

٣ – د کار د مناسب او خوندې چاپیریال تامینېدل

(٢) ددې مادې په (١) فقره کې درج سویو خوندیتوبونو شرایط او د ګټې اخیستنې ډول د اړوند تقنیني سند په واسطه تنظیمیږي.

(د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د کار قانون)

<u>**اوومه ماده:**</u>

(١) د لوړو زده کړو مؤسسه هغه علمي قانون دی چې مبرمې تاکلي دندې په غاړه لري او له هر ډول سیاسي ، مذهبي ، قومي ، سمتي او ژبنیو فعالتونو څخه خوندي ده .

(٢) د لوړو زده کړو د مؤسسې هیڅ کارکوونکی له جملې علمي او اداري کادر غړي ، نسي کولاي ، د تدریس علمي اداري فعالیتونو او کاري روابطو له لاري د خلکو ډله ییزو او سیاسی موخو په منظور ، نفوذ او بهره برداري (ګټه اخیستنه ) وکړي .

(٣) هیڅ دولتي او نا دولتي ارګان نسي کولاي د لوړ زده کړو د وزارت او مؤسسې په علمي او اکدمیکو چارو کې لاس وهنه وکړي.

(۴) ددې مادې په (٢،١،او٣) فقرو کې له درج سووحکمونو څخه سرغړوونکی تر عدلي تعقیب لاندی نیول کیږي.

(د ملکي لوړو زده کړو قانون)

**اتمه ماده :**

(۱)  د مؤسسې د علمي کادر غړي او نور کارکوونکي د کار د قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د مناسب مزده مستحق دي چې دځانګړی کړنلاري سره سم د دواړو لورو په هو کړي سره د مؤسسې له خوا ټاکل او ورکول کیږي.

(۲) د مؤسسې د علمي کادر غړی او نور کارکوونکې د کاري خوندیتوب لرونکي دی او د کار په قانون او د کار پوري په نورو اړوند تقنیني سندونو د حکمونو سره سم د رخصتي، ترفیع، تقاعد او نورو حقوقواو امتیازونو مستحق دي.

(۳) د مؤسسې د علمي کادر د غړو جذب د شرایطو له بشپړولو او د لوړو زده کړو وزارت له منظوري څخه وروسته د اړوندې لایحې سره سم د مؤسسې د وړاندیز پر بنسټ صورت مومي.

(۴) که چیري مؤسسه مدغم سي د علمي کادر د غړو او دهغو د نورو کارکوونکو مادی او معنوي ټول امتیازونه په هغه نوې مؤسسه کې چې مدغمیږي ورکول کیږي.

(۵) که چیری ددې مادې په (۴) فقره کې درج سوي مؤسسه منحل یا د هغې اکاډمیک اعتبار سلب سي د علمي کادر د غړو او نورو اړوندو کارکوونکو معاشونه د خدمت دورې ته په پام سره تر دري میاشتي مودې پوري د نوموړي مؤسسې له تضمین څخه د ورکړي وړ دي.

(د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسساتو مقرره)

د بُست پوهنتون د استادانو، کارمندانو او محصلینو د خوندیتوب پالیسي  په دوه فصله او اته مادو کې تدوین سوې د علمي شوار د پریکړي پربنسټ په (۸۶) نمبر پروتوکل کې تائید او په (۰۵/ ۰۸/ ۱۳۹۹) هـ ل کال ثبت سول.

**تر تیب کونکی: د استادانو چارو امریت**

**د بُست پوهنتون د رئیس لاسلیک او مهر**